۱ MARIF Weekly

د افغانستان اسلامي امارت

هفته نامه معارف اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق، مطابق ۱۳۸۱ هـ ش | شماره مسلسل (۲۷۶) | ماه شوال المکرم ۱۴۴۵ هـ ق | مطابق ثور ۱۴۰۳ هـ ش

# په بهر کې د افغان کډوالو د اتحادیې استازو د پوهنې وزارت له سرپرست سره وکتل



په اروپا کې مېشتو افغان علمي او فرهنګي شخصیتونو د پوهنې وزارت له سرپرست الحاج مولوي حبیب الله آغا سره وکتل.

په پیل کې د یاد پلاوي استازو، د پوهنې له ترسره شویو پرمختګونو او د هېواد بچیانو لپاره د دیني او عصري علومو په برخه کې د ښوونیزو او روزنیزو آسانتیاوو په برابرولو د خوښۍ د څرګندولو ترڅنګ، د ښوونیز او روزنیز بهیر په تړاو تفصیلي خبرې وکړې.

په یاده کتنه کې راغلي پلاوي د هېواد د پوهنیز نظام د لانبه والي په اړه یو لړ نظریات او وړاندیزونه د پوهنې وزارت مشرتابه ته وړاندې کړل، چې د یاد وزارت د سرپرست له خوا په لېوالتیا سره واورېدل شول.

ورپسې د پوهنې وزارت سرپرست د یاد پلاوي راتګ ته ښه راغلاست ووایه او د یاد وزارت د راتلونکو پلانونو او پروګرامونو ۲مخ

## سږ کال د پوهنې وزارت لخوا ۲۱۰ نویو خصوصي ښوونځیو ته د فعالیت جوازونه ورکړل شوي

په هېواد کې د ښوونیز نظام د لا پیاوړتیا او د هېواد هرې سیمې ته د دیني او عصري زده کړو د رسولو او پراختیا په موخه د روان کال له پیله تر دې مهاله د پوهنې وزارت له لوري




۲۱۰ نویو خصوصي ښوونځیو ته د فعالیت جوازونه ورکړل شوي.

دغه خبره د پوهنې وزارت د نشراتو او عامه اړیکو رئیس ښاغلي قاري منصور احمد "حمزه" (د معارف اوونیزې) سره د یوې ځانګړې مرکې په ترڅ کې وکړه.

۲مخ

## د پوهنې وزارت سرپرست کندهار ولایت ته رسمي سفر وکړ

د پوهنې وزارت سرپرست الحاج مولوي حبیب الله آغا او ورسره مل پلاوي د خپلو ولایتي سفرونو په ترڅ کې چې د هېواد ولایتونو د پوهنیز وضعیت د ارزونې په موخه یې ترسره کړې کندهار ولایت ته سفر وکړ.

د پوهنې وزارت سرپرست د کندهار ولایت له پوهنې رئیس الحاج مولوي فخرالدین نقشبندي سره د لیدنې پر مهال ددې ولایت د پوهنیز بهیر د وضعیت په تړاو بحث وکړ.

د پوهنې وزارت سرپرست د یاد وزارت د وروستیو کړنو د بیانولو په ترڅ کې د مدارسو لپاره د تاکل شوي ښوونیز نصاب پر پلي کېدلو ټینګار وکړ.

نوموړي وویل، په ولایتونو کې د ښوونیزبهیر د پیاوړتیا او ښه والي په موخه یو لړ بنسټیز پلانونه جوړ او عملي چارې یې پیل شوې دي.



ورپسې د کندهار ولایت پوهنې رئیس یاد ولایت ته د پوهنې وزارت د لوړ پوړي پلاوي ورتګ ته ښه راغلاست ووایه او د دغه ریاست د پلانونو، دندو او نورو کړنو په اړه یې د پوهنې وزارت مشرتابه ته هر اړخیز معلومات وړاندې کړل.

په یاده غونډه کې د پوهنې سرپرست لخوا په کندهار ولایت کې د ښوونې او روزنې بهیر د لا ښه والي په موخه د یاد ولایت د پوهنې ریاست چارواکو ته یو لړ سپارښتنې وشوې.

## سرلیکنه

### د را تلونکي نسل روزنه دروند مسئولیت دی

ښوونه او روزنه هغه شتمني ده، چې د هر هېواد راتلونکی ور څخه خړوبېږي د هېواد آبادي، سمسورتیا له ملي نوامیسو څخه دفاع، د خپلې خپلواکۍ ساتنه، د خلکو تر منځ سوله ییز ګډ ژوند، ملي یووالی، خپل فرهنګ او کلتور ته خدمت کول د عامه شتمنیو ساتل، له خیانت او فساد څخه ډډه کول هغه کړنې دي چې زموږ د هېواد او خلکو برخلیک ورپورې تړلی دی. که چېرته هېواد او خلکوته ژمن وو هېڅکله به مو هېواد له دغه شان ستونزو او ناخوالو سره مخ نشي، د اوسنیو او راتلونکو ټولو ناخوالو او ستونزو د حل یوازینۍ کیلي د درنو میندو، پلرونو او زموږ ۲مخ

## افزایش چشمگیر اطفال جدیدالشمول به مکاتب ولایت دایکندی در سال ۱۴۰۳ هـ . ش

ریاست معارف ولایت دایکندی در خبر نامه‌یی، از افزایش شاگردان جدیدالشمول در مکاتب آن ولایت خبر داده. در این خبرنامه آمده است که در سال روان تعلیمی در کل ۱۸ هزار طفل در مکاتب ولایت دایکندی ثبت نام نموده اند.

در این خبرنامه به نقل از قاری عنایت الله سهار رئیس معارف ولایت دایکندی دلیل افزایش شاگردان در مکاتب آن ولایت را، انگیزه و علاقمندی خانواده ها به تعلیم و تربیه فرزندان شان، فراهم آوری سهولت های تعلیمی در بخش های علوم دینی صفحه ۲

## دیدار معین منابع و اداره وزارت معارف از ریاست معارف ولایت کابل

مولوی صبغت الله وصیل معین منابع و اداره وزارت معارف و هیئت همراه شان با رئیس و مسئولین ریاست معارف ولایت کابل دیدار کرد.

در این دیدار معین منابع و اداره این وزارت راجع به پالیسی و استراتیژی وزارت معارف در رابطه به ارتقای کیفیت تعلیمی در مکاتب صحبت نمود و به استناد ارشادات دینی بر اجراء درست امور تأکید نمود.

معین منابع و اداره همچنان در رابطه به بازنگری تشکیل ریاست معارف ولایت کابل صحبت کرده و کمیته یی را در این زمینه معرفی نمود تا در این راستا جهت رفع مشکلات و غنی سازی ساختار تشکیلات آن ریاست کار کند.

سپس الحاج مولوی عبدالحق حقانی رئیس معارف ولایت کابل مشکلات و پیشنهادات ریاست مربوطه را به رهبری وزارت ارائه کرد و نیز مسئولین بخش های مربوطه را جهت بازنگری تشکیل به کمیته تخنیکی مقام وزارت معرفی نمود.

## ساخت یک باب مدرسه دینی به کمک مالی مردم محل در ولایت سرپل



یک مدرسه دینی که هزینه‌ی ساخت آن از سوی مردم محل فراهم گردیده بود پس از تکمیل کار ساخت آن رسماً از سوی مسئولان ریاست معارف و شماری از علمای کرام و باشنده گان محل افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

این مدرسه دینی که بنام «حضرت بلال رضی‌الله عنه» نام گذاری شده است در روستای انگشکه ولسوالی صیاد ولایت سرپل در مساحت ۳ جریب زمین اعمار گردیده است و هزینه ساخت آن که نزدیک به یک ونیم میلیون افغانی می‌رسد از سوی مردم محل فراهم گردیده است. صفحه ۲

## د کابل ولایت د علماوو شورا مرستیال د اماني عالي لېسې څخه لیدنه وکړه

د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست په همغږۍ د کابل ولایت د علماوو شورا مرستیال شیخ ظاهر خان خادم په داسې حال کې چې د یاد وزارت د دعوت او ارشاد ریاست د یو تن مسئول مولوي میرزا محمد مطمئن له لوري یې ملتیا کېدله، د اماني عالي لېسې له مسئولینو، ښوونکو او زده کوونکو سره وکتل.

ددې لیدنې پرمهال، یاد پلاوي د ټولنې ۲مخ

**په بهر کې د افغان ...**

په اړه يې راغلي پلاوي ته معلومات وړاندې کړل، چې د دوی له لوري يې هرکلی وشو. همدارنګه نومورې د ښوونيز نظام په تړاو د افغان پلاوي وړانديزونه اغېزمن وګڼل او د هغوی ملي احساس يې وستايه.

**سږ کال د پوهنې وزارت لخوا...**

د ښاغلي حمزه په وينا د نړۍ علمي او تخنيکي پرمختګونو ته په کتو، د افغانستان ا.ا د پوهنې وزارت د هېواد ټولو برخو ته د ديني او عصري زده کړو رسولو او پراختيا کلک هوډ لري، تر څو له دې لارې وکولای شي، د هېواد بچيانو لپاره يو متوازن او باکيفيته پوهنيز نظام حاکم کړي، همدې اړتيا ته په کتو سږ کال د پوهنې وزارت له لوري ټول ټال ۲۱۰ بابه خصوصي ښوونځيو ته د ځانګړو شرايطو تر چتر لاندې د فعاليت جوازونه ورکړل شوي دي، تر څو د پوهنې وزارت د کړنلارې په چوکاټ کې د خصوصي سکتور په راګډولو سره د رسمي ښوونيزو بنسټونو ترڅنګ، د نوي ځوان نسل په ښوونه او روزنه کې رغنده ونډه واخلي.

هغه همدار راز وويل: په تېرو دوه کلونو «۱۴۰۱ او ۱۴۰۲ لمريز» کې د پوهنې وزارت له لوري ٤٦٦ بابه خصوصي ښوونځيو ته د فعاليت جوازونه ورکړل شوي دي او د ۱۱۰۳ بابه خصوصي ښوونځيو جوازونه يې تمديد کړي دي، په ۱۴۰۱ لمريز کال کې په کابل ښار کې ۳۷ بابه خصوصي ښوونځي تأسيس او ۲۲۱ بابه نورو ښوونځيو ته جوازونه تمديد شوي دي. دغه راز په ۱۴۰۲لمريز کال په ترڅ کې په کابل ښار کې د ۲۸۸ بابه خصوصي ښوونځيو جوازونه تمديد شوي.

نومورې ددې پوښتنې په ځواب کې چې د خصوصي ښوونيزو بنسټونو د تدريس نصاب په څه ډول دی؟ وويل: د پوهنې وزارت ښوونيز نصاب د ديني او عصري علومو د پرمختګ په پام کې نيولو سره له لوړ اسلامي او ملي فرهنګ سره سم چمتو کړی، ترڅو وکولای شو په راتلونکي کې په ديني او عصري علومو سمبال يو متعهد نسل ټولنې ته د چوپړ په موخه وړاندې کړو نو په دې توګه همدغه نصاب د رسمي او خصوصي دواړو بنسټونو لپاره چمتو او د هېواد د بچيانو په واک کې ورکړل شوي دی.

ښاغلي منصور احمد حمزه د خصوصي ښوونځيو د تدريس د کنترول په اړه وويل: د پوهنې وزارت مشرتابه د خصوصي بنسټونو په شمول د ټولو رسمي بنسټونو لپاره، د ياد وزارت په تشکيل کې د څارنې او ارزونې رياست رامنځته کړی دی، تر څو وخت نا وخت د ښوونيزو دولتي او خصوصي بنسټونو د نصاب او د تدريس بهير وارزوي او پايلې يې د وزارت له مشرتابه سره شريکې کړي، چې له نېکه مرغه د څارنې دغه لړۍ د ښوونيز او روزنيز بهير لا ښه والي په موخه، د هېواد د مرکز په شمول د ټولو ولايتونو او ولسواليو په ښوونيزو بنسټونو کې دوام لري.

د يادونې وړ ده د هېواد په بيلابيلو سيمو کې چې پخوا زموږ هېوادوالو ته د زده کړو زمينه نه وه برابره شوې د اسلامي امارت له بيا واکمنېدو را پدېخوا د پوهنې وزارت له لوري او د هېوادوالو په همکارۍ په زرګونو ديني مدرسې او ښوونځي جوړ شوي چې په دې سره په سلګونو زره د هېواد بچيانو ته د زده کړو زمينه برابره شوې ده او د ښوونځيو او مدرسو د جوړېدو او تأسيس چارې لا هم په چټکۍ سره روانې دي.

**د را تلونکي نسل روزنه د...**

درنو او د قدر وړ ښوونکو او استادانو په لاس کې ده. پوهان وايي چې «دانسان شخصيت د محيط زېږنده دی نه وراثت»، دا خبره تر ډېره بريده سمه او پر ځای ده، ځکه چې د وګړو روح او روان د خپل چاپېريال (پلار، مور، استاد) د روح او روان انګازه او انعکاس دی او له دې پرته بل څه نشي کېدلای. د هېواد په دې حساسو شېبو کې له خپلو درنو استادانو، ښوونکو او کورنيو څخه غواړو چې د خپلو اولادونو په سالمه ښوونه او روزنه کې له بل هر وخت څخه زيات زيار وګالي، خپلو اولادونو ته سمه لار ور وښيي او پرې نږدي چې زموږ په هېواد کې پردۍ ناروا او نامشروع غوښتنې پلې شي.

يو له ډېرو مهمو او ارزښتمنو غوښتنو څخه دا ده چې په ښوونځيو کې ښوونيز او روزنيز نظم او دسپلين وساتل شي، په ښوونځيو کې د نظم او دسپلين د ساتلو په برخه کې د درنو کورنيو برخه ډېره غوښنه ده، کورنۍ کولای شي چې د خپلو اولادونو کړنې وڅاري، له هغوی څخه هره ورځ پوښتنه وکړي چې په ښوونځي کې مو څه تيرېږي، ښوونځي ته په لاره کې درته کومه ستونزه شته او که نه؟ ښوونکی صاحب ټولګي ته راځي او که نه؟ او نن يې په کومو موضوعاتو خبرې وکړې... په دې کړنې سره کورنۍ کولای شي د خپلو اولادونو له حال او احوال څخه خبر شي د هغوی په ستونزو وپوهيږي او د حل لپاره يې لازم چمتووالی و نيسي کورنۍ بايد د ښوونځي له اداري سره تل په اړيکه کې وي او د خپلو اولادونو په کنټرول او سالمه روزنه کې د ښوونځي له اداري سره مرسته وکړي که کورنۍ د خپلو اولادونو په هکله بې غوره وي او د هغوی له عملونو څخه بې خبره وي؛ نو هېڅکله به هم ښوونيزو لوړو موخو ته ونه رسيږو، کورنۍ د خپلو اولادونو د سالمې ښوونې او روزنې بشپړ مسئوليت لري او نشي کولای چې له دې مسئوليت څخه ښوونځي ته د خپلو ماشومانو په لېږلو ځان خلاص وګڼي او خپلې اوږې سپکې کړي.

دغه راز زموږ درانه ښوونکي بايد د راتلونکي نسل سالمه ښوونه او روزنه چې د پوهنې وزارت لوړې موخې جوړوي د دوی په غاړه ده، هغوی بايد له درنو کورنيو سره په ګډه او د پرله پسې اړيکو په درلودلو سره په ښوونځيو کې د ښوونيز او روزنيز نظم او دسپلين په ټينګولو کې چې د ښوونې او روزنې لپاره ډېر اړين دی کار وکړي او پرې نږدي چې زموږ ښوونځي د بدماشي، پردي پالنې، تفرقې او نورو ناوړو عملونو په مرکز بدل شي.

د پوهنې وزارت رهبري له ټولو درنو ښوونکو، استادانو، ميندو او پلرونو څخه غوښتنه کوي چې په ښوونځيو کې د پوره نظم او دسپلين له لارې نوی نسل داسې وروزي چې د اسلامي نظام او د هېواد له خپلواکۍ، ملي نواميسو او ملي يووالي څخه ساتنه وکړي په خپل ګران هېواد کې د باغروره ژوند کولو لپاره په رښتينولۍ کار وکړي او خپلو خلکو ته په خپل هېواد کې د کار او زيار زمينه برابره کړي، ترڅو زموږ د هېواد خلک له دې زيات ونه کړيږي او په پرديو هېوادونو کې د دويمه او دريېمه درجه انسانانو په توګه ژوند کولو ته اړ نه شي ترڅو زموږ د هېواد د ازلي دښمنانو هيلې له خاورو سره خاورې شي.

**افزایش چشمگیر اطفال ...**

و عصری از سوی وزارت معارف و ایجاد فضای امن در کشور عنوان کرده است.

در این خبرنامه رئیس معارف به باشنده گان آن ولایت اطمینان داده است که وزارت معارف در روشنایی هدایات رهبری ا.ا. و وفق پالیسی خویش جهت مهیا نمودن هر چه بیشتر زمینه های تعلیمی و تربیتی متوازن برای اولاد وطن در سراسر کشور، درگسترش و ایجاد نهاد ها و مراکز تعلیمی علوم دینی و عصری تلاش های شبانه روزی نموده و می نماید.

**د کابل ولایت د علماوو شورا...**

په اصلاح کې د ديني لارښوونو پر رول هراړخيزې خبرې وکړې او زده کوونکو ته يې لارښوونه وکړه، چې په خپلو ورځنيو چارو کې د اسلام د ستر پيغمبر حضرت محمد «صلی الله عليه وسلم» سنت او کړنلاره عملي کړي.

له بلې خوا د يادې لېسې مسئولينو هم ژمنه وکړه، چې د پوهنې وزارت د مشرتابه د لارښوونې له مخې به ځوانانو ته په اسلامي او ملي روحيه روزنه ورکوي او په خپل ورځني ژوند او چارو کې به د اسلام د ګران پيغمبر حضرت محمد «صلی الله عليه وسلم» لارښوونې عملي کوی.

**ساخت یک باب مدرسه دینی به...**

مولوی محمد رحمانی رئیس معارف ولایت سرپل از حمایت باشنده گان محل و تجار ملی از معارف آن ولایت قدردانی نموده و گفت که با ساخت این مدرسه برای صدها تن از شاگردان این محل زمینه آموزش در فضای مصئون فراهم گردید.او همچنان از سایر تجاران ملی نیز خواست تا در فراهم نمودن زمینه تعلیم و تربیه اطفال و جوانان کشور همکاری کنند. وی در بخش از سخنانش در مورد فضایل آموختن علم صحبت نموده و از توسعه متوازن تعلیمات دینی و عصری در تمام نقاط کشور به مردم اطمینان داد.

در این گردهمایی سایر علماء و سخنرانان نیز در مورد اهمیت تعلیم و تربیه از دیدگاه اسلام صحبت نموده، حمایت مادی ومعنوی شان را از برنامه ها و پلان های ریاست معارف ولایت سرپل اعلام داشتند.

گفتنیست که پیش از این نیز شماری از باشنده گان و سرمایه داران کشور در سایر ولایت های کشور دست به اقدام مشابه زده و با سرمایه های شخصی شان با ساخت مدرسه های دینی و مکاتب برای هزاران تن از شاگردان و طالب العلمان زمینه آموزش را فراهم ساخته اند.

**تأسیس یک باب مکتب ابتدائیه ...**

رئیس معارف هرات، هدف از تأسیس و ایجاد مکاتب را به ویژه در مناطق دور دست، دسترسی بیشتر مردم به معارف عنوان کرده و از تلاش های بیشتر آن ریاست در عرصهٔ فراهم آوری امکانات و مکان های مناسب آموزشی در سال جاری خبر داد.

در همین حال علماء و بزرگان محل از تأسیس ابتدائیه گلستان در منطقه شان ابراز خرسندی نموده و از توجه رهبری وزارت معارف و ریاست معارف ولایت مذکور در راستای تأسیس مکتب یادشده و رشد و توسعهٔ معارف قدردانی نمودند.

## لنډ خبرونه

### لوگر

یک نهاد همکار با معارف در ولایت لوگر در هماهنگی با ریاست معارف آن ولایت، برای ۷ هزار و ۴۰۰ تن شاگردان ۳٦۲ صنف تعلیمات محلی و تسریعی، بسته های آموزشی و قرطاسیه توزیع نمود.

### میدان وردگ

د ميدان وردګ ولايت په جلريز ولسوالۍ کې د بي بي عايشه صديقه «رضی الله عنه» د نجونو ښوونځي د احاطوي دېوال د بنسټ ډبره، د ياد ولايت د پوهنې رئيس په ګډون د يو لړ مراسمو په ترڅ کې کېښودل شوه.

د دغه دېوال د جوړولو لګښت ۵۰۰ زره افغانۍ اټکل شوې، چې د ښوونځي د شورا له خوا ورکول کېږي.

### کابل

د کابل ولايت په خاک جبار ولسوالۍ کې د يو باب مدرسې ودانۍ پرانيستل شوه

د کابل ولايت خاک جبار ولسوالۍ اړوند په چکري کلي کې د حضرت حفصه «رضی الله عنها» په نوم ديني مدرسې ودانۍ، د پوهنې مسئولينو، علماوو، قومي مخورو او د ځايي خلکو په حضور کې ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه.

د يادې مدرسې د ودانۍ مالي لګښت د محمد صديق په نوم د يوه معارف دوست شخصيت لخوا ورکړل شوي.

ياده ديني مدرسه ۳۰۰ زده کوونکي او ۱۳ استادان لري، چې تر دې وړاندې يې په يو کرايي کور کې خپل ښوونيز خدمات مخ ته وړل.

د پوهنې وزارت مشرتابه د ښوونيز نظام لپاره د خلکو له دوام داره مرستو څخه منه او قدرداني کوي.

### کندهار

په کندهار او فارياب ولايتونو کې، د همکارو بنسټونو په مالي مرسته، د ۳۲.۵ ميليونه افغانيو په لګښت سره د دوه بابه ښوونځيو ودانۍ ورغول شوې.

### ننگرهار

یک نهاد خیریه در ولایت ننگرهار، برای ده باب مکتب ولسوالی پچیراگام آن ولایت، ۵۰ تخته خیمه، ۵۰ تخته فرش، ۵۰ عدد تخته درسی و برخی وسایل آموزشی کمک نمود.

### لوگر

ریاست معارف ولایت لوگر، برای ٦۰۰ تن استادان و مسئولین ۲۹۳ باب مدارس و دارالحفاظ های آن ولایت، سیمینار چهار روزه آموزشی را دایر نمود. در این برنامه تریـنران ریاست معارف، اشتراک کننده گان را در مسایل اداری و تدریسی آموزش دادند.

### تخار

دیوار احاطوی لیسه ذکور جلگه ولسوالی ینگی قلعه ولایت تخار به طول (٦٥) متر مربع، به هزینه ٦٥ هزار افغانی از کمک های شورای مکتب متذکره اعمار و به بهره برداری سپرده شد.

هم چنان سنگ تهداب دیوار احاطوی متوسطه توغی قشلاق ولسوالی ینگی قلعه ولایت تخار به طول ۳۱۰ متر مربع به هزینه ۲۸۰ هزار افغانی از کمک های مردم و همکاری شورا مکتب گذاشته شد.

### هرات

په هرات ولايت کې د عاصم خيريه بنسټ د يو لړ مراسمو په ترڅ کې چې د ياد ولايت د پوهنې رياست مسئولينو او قومي مخورو پکې ګډون درلود، د دغه ولايت په مرکز او ولسواليو کې ۴ زره مستحقو زده کوونکو ته د درسي کتابونو او توکو د وېش لړۍ پيل کړه.

د هرات پوهنې رياست د ښوونې او روزنې آمر د ښوونځيو د زده کوونکو د ملاتړ او د پوهنې د پرمختګ په برخه کې د ياد خيريه بنسټ له مرستو او همکاريو د مننې ترڅنګ، له ټولو ملي سوداګرو او خيريه بنسټونو وغوښتل، تر څو په ښوونيز او روزنيز ډګر کې خپلو همکاريو ته دوام ورکړي.

# نصایح لقمان حکیم (رح)

۱. بسیار سریع و قطع قطع حرف مزن، آهسته و سنجیده سخن بگو.
۲. تقوا را اساس زندگیت قرار بده و در امور زندگی از خود جدیت به خرج بده.
۳. از دوستی انسان‌های ابله گریزان باش.
۴. از الله جل جلاله بترس.
۵. از گناه خود را، محافظت کن.
۶. در مجالس تدریس علوم اشتراک کن و از فیض آن خود را محروم نساز.
۷. از انسان جاهل و دروغگو خود را نگهدار.
۸. فاعل کار خویش باش.
۹. هم‌نشین انسان‌های باتجربه باش.
۱۰. از همسایه‌ی بد خود را نگهدار.
۱۱. در انتخاب دوست دقت کن.
۱۲. از علم روز، استفاده عمیق کن زیرا انسان عاقل اگرچه دارا نبود ولی او سرتاج مجالس حکماست.
۱۳. برای روز محشر آماده باش.
۱۴. اول سلام بده بعد آغازگر کلام باش.
۱۵. خود را بشناس.
۱۶. از قرض خود را نگهدار، زیرا قرض روز ترا به ذلت و خواری می‌کشاند و شب ترا دچار تشویش می‌سازد.
۱۷. در کارها عجله نکن و کم سخن بگو.
۱۸. میانه‌رو باش.
۱۹. هنگام قدم زدن دقت کن.
۲۰. با خدمتگار و کارگر دعوا مکن.
۲۱. به حرف دوستت گوش بده.
۲۲. صدقه زیاد بده.
۲۳. انسان راستکار باش و هیله‌جو مباش.
۲۴. با امید باش.
۲۵. قلبت را نسبت به ظاهرت خموش بساز.
۲۶. در هر نقطه‌ی دنیا که هستی خدا را حاضر بدان.
۲۷. کاری که سزاوار تو نیست و ترا نزد خدا شرمسار می‌کند، ترکش کن.
۲۸. اول فکر کن بعد عمل.
۲۹. تنبل مباش و وقت را بی‌جا از دست مده.

## ځان_وپېژنه!

کله چې ځان وپېژنې بیا نو...
درواغ ویل
چل کول
حرام خوړل
فساد کول
غیر اخلاقي کارونه کول
بې ادبي کول
او داسې نور...
دا هرڅه او دېته ورته نور نامناسب کارونه
هېڅکله دخپل شان سره وړ مه بوله.
مهمه دا ده چې موږ پوه شو
چې موږ څوک یو.

## له ناکامۍ مه وېرېږئ

ژباړه: رفیع الله رفیع

دلته درسره د هغو مشهورو کسانو په اړه معلومات ولولئ، چې بریالیتوب ته تر رسېدو وړاندې له ناکامۍ سره مخ شوي وو.

۱- امریکایي والټ ډېزني په یوې ورځپاڼې کې له دندې څخه ځکه وویستل شو، چې نوموړي د تحلیل او د نویو نظریاتو د درلودلو هنر نه درلود، پوهېږئ نوموړی اوس یو پرمختللی متشبث، انیماتو، تمثیل کوونکی او فلم جوړوونکی دی او د امریکا د صنعت په پرمختګ کې لوی لاس لري، ډېزني یوازې له ناکامۍ زده کړه وکړه.

۲- مایکل جورډن، چې کله د ښوونځي د بسکېټبال له ټیم څخه وویستل شو، نوموړی کور ته لاړ او ځان یې په یوې خونه کې بند کړ، پوهېږئ کلونه وروسته هغه په نړۍ کې د باسکېټبال یو پېژندل شوی نامتو لوبغاړی او سرمایه لرونکی شخص باندې بدل شو، د بریا راز یې له ناکامۍ زده کړی و.

۳- آلبرټ آینشټین د عمر تر څلور کلنۍ پورې یې ښځي خبرې نه شوې کولای، ښوونکو یې ویل، هغه به بلوغیت ته ونه رسېږي، خو پوهېږئ، چې څو لسیزې وروسته آینشټین په نړۍ کې یو له نامتو او پېژندل شوي فزیک پوهانو څخه وشمېرل شو. نوموړي د خپلو ښوونکو نظر غلط ثابت کړ.

٤- ستیو جابس په ۳۰ کلنۍ کې بېغیر له کومې مغشوشتیا او تشریفاتو له خپل شرکت څخه وشړل شو، پوهېږی نوموړی اوس په نړۍ کې د آپل شرکت د بسنټ ایښودونکي او د کمپیوټر د صنعت مخکښ په نوم شهرت لري، هنر یې دا و، چې ناکامۍ ته تسلیم نه شو.

له ناکامۍ ورسته تل بریا شته په دې شرط، چې تاسو ناکامۍ ته تسلیم نه شئ.

### جنت د لس (۱۰) ډوله خلکو انتظار کوي

ډېرې آسانې لارې دي
(۱) هغه کس چې د شپې پاڅیږي او د تهجد لمونځ کوي.
(۲) هغه کس چې په ګرمۍ کې روژه نیسي.
(۳) هغه کس چې له امام سره په اول تکبیر کې ځان شریکوي.
(۴) هغه کس چې د الله تعالی جل جلاله د عبادت کولو له وجهې لږ ویده کېږي.
(۵) هغه کس چې تل رښتیا خبرې کوي.
(٦) هغه کس چې دیني علم زده کوي او نورو ته یې رسوي.
(۷) هغه کس چي تل په اوداسه ګرځي.
(۸) هغه کس چې هر وخت په نبي کریم( صلی الله علیه وسلم ) باندې درود شریف وایي.
(۹) هغه کس چې له خپلې کورنۍ سره په شفقت او خوشحالۍ ژوند تېروي.
(۱۰) هغه کس چې وږي ته ډوډۍ او تږي ته اوبه او بربنډ ته کالي ورکوي.

### سخنان انگیزشی

صحبت های هیچ کسی جز خود شما بر خودتان موثرتر نیست، وقتی افکار منفی به ذهن تان هجوم می آورد با خودتان صحبت کنید و از جملات مثبت برای آرامش خود استفاده کنید.
به خود بگویید که، روزهای قشنگی در انتظار من است.
به خود بگویید که، من خدایی بزرگ و مهربان دارم او وعده داده است که هرگز مرا در شرایط سخت رها نخواهد کرد او همیشه توجه‌اش به زندگی من است.
به خود بگویید که، من شادی و مؤفقیت را انتخاب می کنم و ایمان دارم که به همه آرزوهایم می رسم.
به خود بگویید که من، دوستت دارم تو شایسته و لایق بهترین های این جهان زیبا هستی.
صحبت های درونی تان را با احساسات زیبا آغاز کنید و آن را آرام آرام به اوج برسانید.
زندگی با افکاری مثبت و مداوم آنقدر زیبا می‌شود که حتی تصورش را هم نمی‌کنید.

## مکاره زمانه

هره پاڼه چې د ګل څخه، تویږي
صاحبدل په خپل، انجام باندې پو هېږي
میږوښې لور چې د سپین ږیري پلار کره د لېږې ملکونو څخه میلمنه راغلی وه.
پس له څو مودې د خدای پامانۍ په وخت کې یې ، په داسې حال کې چې پلار یې د ناروغۍ په بستر کې پروت و او د خپلې لور او لمسیانو د تګ له پاره ژړه غون و نو لور یې ورته داسې وویل پلاره!
مه ژاړه کال ته که خیر وي بیا راځو، پلار ژړا ته نور هم زور ورکړ.
ځکه هغه د فاني دنیا نه دومره مهلت ځان ته نه لیده، او د فاني دنیا په لو بو پوه و.
لور ته یې هېڅ ونه ویل، خو د دې ناویلي ټکي او مضمون درک به غیر د صاحبدل څخه چا نه شو کولای.
زه ګرم نه یم چې، ژړېږمه عالله
په ټول عمر، د فاني دنیا له غمه
څه چې ما په دې، کاروان کې دي لیدلي
د غافل سترګې یې نه ویني، په سمه

### ژور سوچ

بهار وو، او دګلونو موسم، تر هغه ځایه چې نظر کېده، ښکلا وه، سمه او غر په رنګین ګلونو پوښلي وو، درویش چې د دېواله اړخ ته ډډه لګولې او ورشو ته مخامخ ناست وو، سر یې په ګرېوانه کې د ننه کړی وو، لاروی چې پرې د تېرېدو په حال کې وو، ورڅغ یې کړ:
درویشه!سر د ګرېوانه څخه راپورته کړه چې ګلونه او ګلزار ووینې، درویش وویل: سر په ګرېوانه کې د ننه کړه چې د ګلونو خالق ووینې.
د فارسی ادبی پارچو څخه ژباړه

## معارف

با چراغ علم و دانش میهنم روشن کنم
از معارف نسل نو را رونق میهن کنم
پیرو احمد منم ازدین و از آئین خود
ملت آزاده را در خاک خود مأمن کنم
با خدا پیمان و عهد من بود اسلامیت
نخل دین را آبیاری اندرین گلخن کنم
بشکنم تلبیس ابلیسان افرنگ لعین
این وطن را چون عدن هم برشما برمن کنم
زنده دارم تاریخ آباء و اجداد غیور
براجانب این دیار خویش را مدفن کنم
نسل افغانم بنازم بر شهیدان وطن
نسل نو را غازیان و شهسوار فن کنم
نوریا افغان زمین است مرکز علم و هنر
ازمعارف سرزمینم چون گل سوسن کنم

**نوری**

## به نقاط قوتت اعتماد کن

- هیچ وقت تسلیم نشو، چرا که در هر چالشی فرصتی برای رشد و یادگیری وجود دارد.
- به جای ترسیدن از شکست، به دستاوردهایت افتخار کن.
- بزرگترین رقیبت خودت هستی، برای بهبود خودت رقابت کن.
- اگر به خودت ایمان داشته باشی، می‌توانی هر چیزی را به دست آوری.
- به هر چیزی که یاد می‌گیری ارزش بده، زیرا دانش توانایی قدرتمندی است.
- همیشه به هدفت وفادار باش و از راه‌های مختلف برای رسیدن به آن استفاده کن.
- تنها راه برای پیشرفت، خروج از منطقه آرامش است.
- مهم نیست چه چیزی را انتخاب کردی، مهم این است که بهترین آن باشی.
- در هر شرایطی به خودت اجازه بده رشد کنی و بهترین نسخه خودت را بسازی.
- تمرکز خود را بر روی راهنمایی‌ها و بازخوردهای سازنده قرار بده و بهبود خود را تجربه کن.
- به چالش‌ها به عنوان فرصت‌ها برای رشد نگاه کن.
- از اشتباهاتت درس بگیر و به نقاط قوت خود اعتماد کن.

Newspaper
Marif
Weekly

مسئول مدیر: سعید «جلال»
کتنپلاوی: الحاج مولوی شهاب الدین «ثاقب»
مولوی عزیز احمد «ریان»
قاری منصور احمد «حمزة»
معراج «زمانی»
محمد اکرم «وفادار»
محمد نسیم «عیاد»
عبدالصبور «غفرانی»
انځور اخیستونکی: محمد ادریس «نوری»
ډیزاینر: محمد قسیم «نادم»

تیراژ: ۳۰۰۰
پته: د کابل ښار، غازی محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت

علاقه مندان معارف و نویسنده گان گرامی!
شما می توانید انتقادات، پیشنهادات و نوشته های خود را جهت چاپ به ایمیل آدرس ذیل ارسال نمایید.
Marifnewspaper1919@gmail.com
د اړیکې شمېره: ۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 276,2024

## سنگ تهداب یک باب مکتب در ولایت غزنی گذاشته شد

سنگ تهداب یک باب مکتب ابتدائیه در ساحه عُلیات ولسوالی جاغوری ولایت غزنی طی مراسمی با حضورداشت رئیس و رهبری ریاست معارف، علمای کرام و متنفذین قومی گذاشته شد.

قرار است ساختمان مکتب یاد شده در مساحت سه جریب زمین، که دارای ۷ صنف درسی، یک شعبه اداری، میدان ورزشی وسایر سهولت های لازم میباشد ساخته شود که با تکمیل شدن کار ساختمانی آن زمینه آموزش برای ۳۰۰ تن شاگرد فراهم خواهد گردید.

هزینه مجموعی ساخت تعمیر مکتب یاد شده ۴ میلیون افغانی تخمین شده که از سوی مردم معارف دوست ولسوالی جاغوری کمک میشود .

رهبری وزارت معارف در حالی که کمک های مردم را برای غنامندی معارف مهم می‌داند از حمایت های مردم علم پرور ولسوالی جاغوری ولایت غزنی اظهار قدردانی می نماید.

آمر معارف ولسوالی یاد شده نیز در ارتباط به اهمیت آموختن علم در جامعه صحبت کرده، گفت: با ساخت این مکتب مشکلات فرزندان باشندگان این ولسوالی از ناحیه نداشتن صنوف درسی حل خواهد شد.

# تأسیس یک باب مکتب ابتدائیه در ولایت هرات



حسب پالیسی وزارت معارف مبنی بر عرضه خدمات تعلیمی متوازن به اولاد وطن در سراسر کشور، ابتدائیه گلستان در قریهٔ نوین محل گلستان ولسوالی انجیل ولایت هرات طی مراسمی با حضور رئیس و رهبری ریاست معارف هرات، علمای کرام و اعضای شورای محل، تأسیس و فعال گردید.

ص۲

## په لوګر ولایت کې یو باب لومړنی ښوونځی تأسیس شو



د لوګر ولایت پوهنې ریاست په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې د یاد ولایت خروار ولسوالۍ اړوند په بهادرخېلو کلي کې د حضرت محمد «صلی‌الله علیه وسلم» په نوم یو لومړنی ښوونځی تأسیس او د زده کوونکو پر مخ پرانیستل شو.

د یاد ولایت د پوهنې مسئولینو خرګندونو له مخې دغه ښوونځی د خروار ولسوالۍ د پوهنې مینه والو په پرله پسې غوښتنې سره جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

د یادونې وړ ده، چې تر دې وړاندې په یاد کلي کې هېڅ ښوونځی شتون نه درلود او د یاد ښوونځي په جوړېدو سره د ۳۰۰ تنو ماشومانو لپاره د زده کړې آسانتیا برابره شوې ده.

د خروار ولسوالۍ اوسېدونکو د پوهنې وزارت د مشرتابه او د یاد ولایت د پوهنې ریاست له هڅو ستاینه وکړه او د پوهنې ریاست له ښوونیزو پلانونو او پروګرامونو یې خپل ملاتړ اعلان کړ.

## په سرپل ولایت کې یو باب دیني مدرسه تأسیس شوه

د پوهنې وزارت له لوري، د سرپل ولایت په سوزمه قلعه ولسوالۍ کې "د بنات علامه ابن همام" په نوم د نجونو یو باب دیني مدرسه، د یاد ولایت د پوهنې مشرتابه، دیني علماوو، د سیمه ییزو ادارو مسئولینو او قومي مخورو په ګډون د یو لړ مراسمو په ترڅ کې تاسیس شوه.

د سرپل ولایت پوهنې رئیس مولوي محمد رحماني په اسلام کې د ښځو د حقونو په تړاو تفصیلي خبرې وکړې.

ورپسې څو تنو دیني علماوو د یادې موضوع په تړاو د خبرو ترڅنګ، د پوهنې وزارت او د سرپل ولایت پوهنې ریاست له پلانونو او پروګرامونو خپل ملاتړ اعلان کړ.

په پای کې د سرپل پوهنې رئیس له لوري "د بنات علامه ابن همام" دیني مدرسه د پټې په پرېکولو سره پرانیستل شوه.

## د فراه ولایت په ۱۰ بابه ښوونځیو کې درسي او لابراتواري توکي ووېشل شول

دفراه په ولایت کې د لس بابه ښوونځیو په زده کوونکو د ۴۷۶ زره افغانیو په ارزښت درسي او لابراتواري توکي ووېشل شول.

د یادونې وړ دی چې په تېر کال کې هم د هېواد په ۲۶ ولایتونو کې د یو شمېر ښوونځیو زده کوونکو ته درسي او لابراتواري توکي لیږل شوي وه.

## د ښوونیز نصاب ریاست د کارکوونکو د وړتیا لوړولو سیمینار پای ته ورسېد


د پوهنې وزارت د ښوونکو د مسلکي پراختیا او ښوونیز نصاب لوی ریاست اړوند «د ګرافیک، د درسي کتابونو ډیزاین او معلوماتي ټکنالوژۍ د څانګو» د کارکوونکو د وړتیا لوړولو سیمینار، چې یوه میاشت وړاندې پیل شوی ؤ، د یو لړ مراسمو په ترڅ کې چې پکې د ښوونکو د مسلکي پراختیا او ښوونیز نصاب لوی رئیس الحاج مولوي اول ګل ایوبي، د یاد ریاست منسوبینو او د پوهنې وزارت یو شمېر مرکزي رئیسانو حضور درلود، پای ته ورسېد.

غونډه د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه؛ ورپسې د پوهنې وزارت د ښوونیز نصاب رئیس مفتي مولوي محمد حنیف شاکر مېلمنو ته د ښه راغلاست په ترڅ کې د یاد سیمینار اساسي موخې تشریح کړې او ویې ویل، د هېواد او مسلمه امت د پرمختګ او آبادۍ یوازینۍ لاره په بشپړ ډول د اسلامي اصولو پلي کول دي. دغه راز نوموړي له کارکوونکو وغوښتل، ترڅو د اسلام د سپېڅلي دین د اصولو او د هېواد د نافذه قوانینو په چوکاټ کې د سیمینار له محتوا څخه په خپلو رسمي ورځنیو چارو کې اعظمي ګټه پورته کړي.

د یادولو وړ ده، چې په یاد سیمینار کې د ښوونیز نصاب اړوند د درسي کتابونو د ګرافیک ډیزاین او معلوماتي ټکنالوژۍ د څانګو ۱۷ تنو کارکوونکو برخه اخیستې وه، چې د دغه ریاست د ۷ تنو روزونکو له لوري ورته روزنه ورکړل شوه.

غونډه د ښوونکو د مسلکي پراختیا او ښوونیز نصاب د لوی رئیس له لوري د تصدیق پاڼو په وېشلو سره پای ته ورسېده.

## د پوهنې وزارت د معیاري آزموینو د مسودې لایحه وروستۍ شوه



د معیاري آزموینو د لایحې په اړه بحث، د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین معین الحاج مولوي عبدالخالق صادق په مشرۍ، په داسې حال کې ترسره شو، چې د معیاري آزموینو رئیس مولوي شمس الرحمن حماس، یو شمېر مرکزي رئیسانو او د یاد ریاست کارپوهانو حضور درلود.

د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین معین د زده کوونکو د دوامداره ارزونې او پر وخت د آزموینې اخیستلو اهمیت بیان کړ او د هغوی د ښوونیزې کچې په لوړولو کې یې د معیاري آزموینو د رول په اړه تفصیلي خبرې وکړې.

همدارنګه نوموړي د اړونده څانګو له کارکوونکو څخه وغوښتل، ترڅو د یادې لایحې په پلي کولو کې همکاري وکړي.

په پای کې د یادې مسودې د لایحې طرحه د غونډې د ګډون والو له خوا په علمي او مسلکي توګه، تر غور او بحث لاندې ونیول شوه، چې د نظرونو له تبادلې او تعدیلاتو وروسته تصویب شوه.

د پوهنې وزارت د معیاري آزموینو رئیس دغه لایحه د پلي کولو پر وړاندې او هیله یې وښوده، چې د مسئولینو له لوري به عملي شي.

# شپه پرته له سپوږمۍ څخه تیاره ده او ذهن پرته له علم